# زیړی

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي


ادبیات د الفاظو او کلمو شعوري انتخاب او منطقي ترتیب، د جملو آګاهانه پیوستون او د خامو موادو په څېر د روانو خبرو اترو په ژبه د یوه داسې خاص شکل جوړښت ته وايي، چې ترنم او موسیقیت په کې پیدا شي، د انسان د ښکلا پر احساس مثبت تأثیر وکړي، د بشري ژوند له نادرستو اړخونو او د اجتماعي عدالت له غیر عادلانه صحنو څخه پرده پورته کړي او ټولنه د هغوی سمون ته راوپاروي.

حبیب الله جاج پښتون زوی


چهارشنبه ▣ ۱۳ – ۱۶ مه ګڼه ▣ درېیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۳۷ – ۲۴۰ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴ لمریز کال د لړم (عقرب) ۲۷ مه ▣ ۱۴۳۷ هـ ق کال د صفر المظفر ۵ مه ▣ ۲۰۱۵ زېږدیز کال د نومبر ۱۸ مه


# اروابناد استاد کامل مومند

✎ څېړندوی حبیب الله رفیع

د پښتنو لوی ادیب، شاعر، لیکوال، مؤرخ او محقق استاد دوست محمد کامل چې پوره نیمه پېړۍ یې وینې په رګونو کې د پښتو په مینه غورځنګونه وهلي وو او پوره پنځوس کاله یې د پښتو له پاره قلم چلولی و او پر یوه ټاکلي لار روان و، د ادب – تاریخ - ادبي نقد او د ژبې پر نورو خواوو یې قیمتي آثار کښلي وو، د تېر کال (۱۳۵۹) د کب په څلورمه نېټه د سالنډۍ د ځوروونکي اوږد رنځ له امله ساه ورکړه او له نړۍ څخه یې سترګې پټې کړې، ده د پښتنو د ژبې او تاریخ له پاره نه هېرېدونکي خدمتونه کړي او د مورنۍ ژبې چوپړ یې د خپل ژوند اساسي نصب العین ګرځولی و.

مـوږ پـه داسې حال کې چې د ده اروا ښاده غواړو، د ده پر ژوند او آثارو غږېږو او په لنډه ډول د ده پر جاوېدانو خدمتونو رڼا اچوو.

**زوکړه او زده کړه:**

د باړې د مومندو "فوجون خان" نومي یو پښتون د نوکرۍ او کار په سلسله کې د نوښار تحصیل له "ډاګۍ" نومي ځای نه پېښور ته راولېږدېد او د پېښور په "سکندرپوره" کې استوګن شو. د لرې پښتونخوا په دې لوی ادبي او علمي مرکز پېښور کې د دې پښتانه کره د ۱۹۱۵ ع د ډیسمبر په اوولسمه نېټه یو ماشوم سترګې وغړولې، پلار یې "دوست محمد" نوم پرې کېښود، کله چې د دې ماشوم عمر د زده کړې له پاره وړ شو، پلار یې په لومړني ښوونځي کې واچاوه. د دې ځیرک او مستعد ماشوم استعداد د غوړېدو موقع ومونده، د ښوونځي درسونه یې په مینه او بري ورانده بوتلل، په ۱۹۳۲ ع کال کې یې د مردان له یوه سرکاري ښوونځي څخه د زده کړې سند ترلاسه کړ، د لوړو زده کړو له پاره د پېښور په اسلامیه کالج کې شامل شو، په ۱۹۳۴ ع کال کې یې کله چې د "ایف، اې" ازموینه تېره کړه، له اسلامیه کالج نه ایډورډز کالج پېښور ته ولاړ، دلته یې په ۱۹۳۶ ع کال کې "بي، اې" وکړه، د لوړو تحصیلاتو له پاره علیګړ مسلم یونیورسټي ته ولاړ، دوه کاله وروسته یې په فلسفه کې له "ایم، اې" کولو نه وروسته د "ایل، ایل، بي" سند هم واخیست او په ۱۹۳۹ ع کال کې یې په حقوقي چارو کې عملي قدم پورته کړ.

کامل مړ شو؟ نه! مړ نه شو! تل ژوندی شو!
کامل نه مري څو پښتو ده، څو پښتون دی!
د "کامل" کامل، کامل ژوندي کارونه
پښتنو ته په هر وخت نوی مضمون دی!

**د ادبي ذوق غزوني:**

دوست محمد خان لا د تحصیل او زده کړې په دوران کې و، چې د ادبي استعداد ګلونه یې په غوړېدلو شول، د شعر او شاعرۍ تنکیو غوټیو یې خولې پرانیستلې او ډېر ژر د یوه ځوان شاعر په توګه وپېژندل شو، د همدې ادبي روان استعداد برکت و، چې د پېښور په اسلامیه کالج کې له زده کړې سره سره، د دې کالج د طالبعلمانو مشهورې مجلې "خیبر میګزین" مدیر هم وټاکل شو او دا مجله یې په پوره صلاحیت او بشپړه مینه چلوله او همدا وخت و، چې ځان ته یې د کامل تخلص وټاکه او د خپلې پېژند ګلوۍ په ساحه کې د دوست محمد خان کامل مومند په نامه مشهور شو.

**سیاسي مبارزه:**

دا وخت د انګرېزي ښکېلاک ناندودو د لوی هند ارته سیمه په سره تبۍ بدله کړې وه، له یوې خوا د استعمار ظلم او تشدد او له بله پلوه د ولس قربانۍ او د ملي خپلواکۍ ترلاسه کولو مبارزه اوج ته رسېدلې وه او داسې وخت راغلی و، چې هېڅوک له سیاست نه ګوښه نه شوی پاتې کېدلی، کامل صاحب په عملي سیاست کې برخه واخیسته، دی د مسلم ځوانانو د فدراسیون د مشر په توګه زندان ته ولېږل شو، څه موده یې د زندان په تورو تمبو کې تېره کړه، له زندان نه تر راوتلو وروسته د هند او پاکستان د وېش په دوران کې د مسلم ځوانانو د ګوند نشر او اشاعت اداره ور وسپارله شوه او دې کار ته یې په پوره مینه دوام ورکړ.

**د نري رنځ چپاو:**

کامل صاحب د ځوانۍ ۳۲ پسرلي تېر کړي وو، ځوان احساس، د کار حوصله، تونـد احساسات او د پښتو د خدمت تاندې هیلې یې درلودې چې یو ناڅاپه د نري رنځ بې رحمه چپاو پرې وشو او د دې ناوړه رنځ حملې داسې بې واکه کړ، چې هم یې له سیاسي مبارزې څخه ګوښه کړ او هم ادبي خدمات ترې پاتې شول، د رنځ له لاسه دوه نیم کاله په بستر پرېووت، خو لکه لوی خدای ته منظوره وه چې کامل صاحب باید د خپل قام تاریخ او خپلې مورنۍ ژبې ته داسې درانه کارونه ترسره کړي، چې د بل چا په وس کې نه وو، له دوه نیم کاله کړاو او رنځ وروسته خدای له دې خونړۍ ناروغۍ څخه روغ کړ او دا ځل یې خپل پاتې عمر د قام تاریخ او د خپلې مورنۍ ژبې خدمت ته وقف کړ او د ژوند تر پایه یې دا کار پرېنښود.

**د ادب ډله ییز خدمت:**

کامل صاحب له نري رنځ نه تر روغتیا وروسته د خپلو نورو ملګرو په مرسته په ۱۹۵۱ ع کال په پېښور کې "ولسي ادبي جرګه" جوړه کړه، د دې جرګې مؤسس کاکاجي صنوبر حسین مومند و، د جرګې مشري د ابوالمراد امیر


درېیم مخ ⇦

# هېواد پالنه په ښځينه لنډيو کې

## ښېرنياره سميله احمدزۍ

زموږ تاريخي، لرغوني او ادب پاله هېواد کې، آزادي غوښتونکو، نامتو او اتلو مېرمنو د تاريخ په اوږدو کې د خپلو انساني عواطفو، اخلاقي او بشرپالونکو احساساتو په وسيله د انساني ژوند په بېلابېلو برخو کې د پټمنو، مېړنيو نارينه وو ترڅنګ د ظلم، زورواکي او بېعدالتۍ پر وړاندې د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو له پاره خپل مقاومت، عادلانه او برحقه مبارزو ته دوام ورکړی او په دې لاره کې يې په مېړانه ګامونه پورته کړي، خپل نومونه يې ځلولي او تلپاتي کړي دي.

پښتنې مېرمنې د حماسي احساس څښتنانې او له هغه څه سره چې د هېواد او ټاټوبي په نامه يادېږي، پوره مينه لري. کله کله خو د دوی ملي روحيه او هېواد پالنه تر نارينه وو هم رومبيتوب کوي. ډېر په دې اند دي، چې ښځې د رقيق احساس او نرم زړه خاوندانې دي، خو د دوی دغه طبيعي احساس او عاطفه د هېواد او هېواد پالنې په ډګر کې او له دښمن سره د مبارزې په ميدان کې دومره تضاد پيدا کوي او د سخت زړه خاوندانې کېږي، چې حتی د خپل مين، مېړه، اولاد، پلار، ورور او خپل هر څه تر خپل وطن او آزادۍ قربان کوي، نو ځکه له رقيق احساس سره د زمري زړه هم لري، پښتنو مېرمنو که څه هم د جګړو ميدانونو ته عملاً نه دي وردانګلي او که په عامه توګه له وړتيا پرته اوږه په اوږه او توره نه ده تر ملا کړې، خو خپلو اولادونو، مېړونو او ورونو ته يې داسې د مېړانې او غيرت درس ورکړی دی، چې له هيڅ راز سرښندنې څخه يې خپل ځانونه نه دي ژغورلي، آن ډېر ځله خو داسې هم شوي، چې مستقيماً د جګړې ميدان ته توره په لاس ننوتلې او په دښمن يې وارونه کړي دي.

لنډۍ چې د پښتو شفاهي ادب يوه ځانګړې بډايه برخه ده، ډېره برخه يې د ښځو له خوا ويل شوې او د پښتنې مېرمنې د نازکو نوښتونو او سپېڅلو احساساتو څرګندويې دي، په پښتو لنډيو کې د مېرمنو عواطف، احساسات او جذبات په ډېره په زړه پورې محسوسه توګه انځور شوي او تل يې د دوی ارمانونه، پيغامونه او الهامونه خوندي ساتلي دي.

پښتنې مېرمنې، تل لکه د ملالۍ په څېر د خپل هېواد په لاره کې د قربانۍ له پاره حاضرې دي. دغه ملاله هم يوه پښتنه پېغله وه، چې د افغان - انګليس د دويمې جګړې په وختونو کې يې په يوه غږ د پښتنو ماتې خوړلي او بې ساه لښکرو باندې څومره اغېز کړی دی، حتی که ووايو، چې د دغې جګړې د ميدان ګټل او تاريخي وياړ له غازي ايوب خان سره سره د ملالۍ په نصيب هم دی، مبالغه به نه وي؛ ځکه کله چې د ميوند په جنګ کې د پښتنو لښکر په بده ورځ وا و نږدې وه چې د تندې له لاسه ماتې وخوري، د پښتنو بيرغچي هم سخت ټپي شوی وا و بيرغ يې له لاسه ولوېد، د ملالۍ په نوم يوه پښتنه پېغله راغله او د پښتنو بيرغ يې په سرو منګولو واخيست او ناره يې کړه چې:

کـه پـه ميونـد کـې شـهيد نـه شـوې
خـدايږو لاليـه بـې ننګـۍ تـه دې سـاتينه

دا يو آسماني غږ شو چې د پښتنو زلميانو وينې يې په جوش راوستلې او ټولو د الله اکبر په غږ په دښمن بريد وکړ، دښمنان يې تار په تار کړل او خپله پاکه خاوره يې د دوی له قدمونو نه وژغورله.

موږ نه شو کولی چې د ملالۍ او يا هم د دې په څېر د نورو قهرمانو پښتنو مېرمنو هغې، چې د خپل هېواد د آزادۍ او خپلواکۍ له پاره يې کړې دي، هېرې کړو.

په دې توګه د تاريخ په اوږدو کې پښتنو مېرمنو تل د خپل هېواد د آزادۍ په خاطر مبارزې کړي او په ملي مبارزو کې يې فعاله ګډون کړی دی.

لکه څنګه مو چې وويل، پښتنې مېرمنې له خپل هېواد سره پوره مينه لري او په دې ميدان کې دوی له هر چا نه وړاندې ښکاري، د دوی د دغې مينې څرک په لاندې لنډيو کې وګورئ:

کـه د زلمـو نـه پـوره نـه شـوه
ګرانـه وطنـه جينکـۍ بـه دې ګټينـه

***

ځـان بـه سـل ځـای قطـرې قطـرې کـړم
وطنـه تـا بـه لـه دښـمن ځينـې سـاتمه

***

ننـګ پـه وطـن ښـايي جانانـه
چـې دې کـوي عـالم د تـورې صـفتونه

***

وطنـه تـا سـره وعـده کـړم
که په تا جنګ شو زه به مخکې ورله ځمه (۱)

لکه څنګه چې پښتون زلمي د خپلې خاورې او وطن له پاره ملي حماسه او خپلواکي د ځان په سرو وينو ګټي، پښتنې پېغلې او مېرمنې هم

دويم مخ

# د پښتو کتابونو د پښتۍ طرحې

## ● ښېرنوال محمد نبي صلاحي

تاسې به په دې خبره کې له ما سره هم نظره ياست، چې خواږه د لوښي له مخې خواږه کېږي. دغه ټکی يوازې د خوړو نه، بلکې د کتاب د پوښ په برخه کې هم صدق کوي.

په نړۍ کې د پوهانو له خوا وروستۍ څېړنې دا ښيي، چې په وروسته پاتې هېوادونو کې، ۷۰ سلنه کتابونه، د هغو د پښتۍ له مخې خرڅېږي. له دې امله ويلی شو، چې د کتابونو د لومړي مخ د دوتنې (پښتۍ) طرحه، يوه ډېره ارزښتناکه موضوع ده. تاسې به زموږ په هېواد کې، د کتابونو د مخکتنې او کره کتنې په ادبي غونډو کې، ډېر ځله ليدلي وي، چې په هغه د ښه يا بد قضاوت، د کتابونو له دوتنو پيلېږي.

پوهان، اول دا خبره سپينوي، چې د ادبي اثر لوښی، بدرنګه دی او که ښکلی؟!

هغه کتابونه چې تر اوسه پورې، زما لاس ته راغلي دي، زياتره پښتۍ يې طرحې نه لري. يوازې د کتاب نوم په تور ليک کښل شوی او د کتاب اول او څلورم مخ ته رنګ ورکړ شوی دی، يا مازې يو دوه کرښې پرې کښل شوې دي، چې که دوه کتابونه، څنګ په څنګ سره کېږدې، نو بېخي يې د دوتنو کرښې، رنګ او د پښتۍ ډول يو وړ معلومېږي. له دې نه ښکاري، چې شاعرانو او ليکوالو له اوله، د کتاب دوتنو ته چندانې اهميت نه دی ورکړی او دا يې تاريخي دليل دی. موږ له دې نه معلوموو، چې د کتابونو په برخه کې، د ګرافيک فن کارونه، زموږ په ګران هېواد کې، چندانې اوږده سابقه نه لري.

هغه آثار، چې د افغانستان د معاصرو ادبياتو د روښانتيا په پړاو کې خپاره شوي دي، بېخي طرحې نه لري. د اوسنيو ادبياتو د ويښتيا په پړاو کې، د کتابونو د څومره والي او څرنګوالي په اړخ کې، د هغو د پښتۍ طرحو ته هم پاملرنه کېږي، لکه د شهيد استاد سيد بهاؤ الدين مجروح د (ځانځانی ښامار) د پښتۍ طرحه. د اوښتون په پړاو کې هم، د يو زيات شمېر کتابونو د پښتۍ طرحې، نه ليدل کېږي او په څېړنيزو کتابونو د پښتۍ د راوړلو دود، بېخي کم باب وو. زياتره به ويل کېده، چې په څېړنيز اثر کې د طرحې راوړل، رواج نه دي. له دې امله، زموږ کتابي بهير، له يوې غټې نيمګړتيا سره مخامخ وو.

که تاسې د پښتو ټولنې، د علومو اکاډمي، کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون او د بيهقي د کتاب خپرولو مؤسسې له خوا، ګڼ شمېر پخواني خپاره شوي آثار، په غور سره وګورئ، نو بيا به کېدی شي، چې زما له دې خبرې سره اتفاق وکړئ.

په را وروسته کلونو کې، ورو-ورو د کتابونو د پښتۍ طرحې ته پام واړول شو او نن سبا چې کوم کتابونه زموږ ګوتو ته راځي، زياتره يې ښې يا نيمګړې طرحې لري. په کابل کې، د صميم ادبي ټولنې له خوا د يو شمېر چاپ شوو کتابونو ځينې طرحې په زړه پورې دي. په پېښور او کابل کې، د دانش خپرندويې ټولنې له خوا د ځينو چاپ شويو کتابونو طرحې جالبې دي. دغه راز په کوټه کې، حمدالله صحاف کندهاري ځينې کتابونه، په ښکلې طرحه جوړ کړي دي. په دغه لړ کې ويلی شو، چې که څه هم، تر اوسه پورې، د ګرافيک فن، زموږ په ګران هېواد کې، د يوه فرهنګي جريان او مسلک په

درېيم مخ

# ورانديز

## اسدالله غضنفر

د نوې ځوانۍ په کلونو کې مې همت وکړ چې د (کابل) مجلې د څو لسيزو ګڼې له يو مخه ولولم. د اکثرو ليکنو مزه نه وه، خو ځينې ژباړې او ليکنې ډېرې عالي رابښکاره شوې. اروابښاد عبدالوکيل صداقت د ۱۳۴۱ کال په يوه ګڼه کې د عباس محمود العقاد يوه مقاله (څنګه قصه په لوستو ارزي؟) ژباړلې وه. له هغه وروسته ما د کيسو په باره کې په لسګونو او سلګونو مقالې او کتابونه ولوستل، خو دغه مقاله مې هېره نه شوه. اروابښاد صداقت د امريکايي ليکوال ريچارډز سامرز يوه ليکنه هم له عربي راژباړلې وه. په دې مقاله (يو مبتدي څنګه د کيسو ښه ليکوال کېدای شي؟) کې مې ولوستل چې «ليکوالي په ډېرو ليکلو، په پرله پسې ليکلو او په هغو ليکلو چې خطاوې يې رغوي، ښه زده کېږي.»

د ۱۳۳۷ کال په يوه ګڼه کې د طه حسين يوه ليکنه خپره شوې وه، چې ګومان کوم (ثقافت) نومېده او ژباړن يې سليمان لايق و. د شلمې پېړۍ لوی مصري ليکوال طه حسين د باکلتوره کس په باره کې ليکلي وچې: «زما په عقيده يوازې د لوړو درجو او شهادتنامو اخيستل له ځوانانو څخه مثقف سړي نه شي جوړولای، ترڅو پورې چې دا ځوانان د نابلدي هغه شعور چې د نورو هېوادونو او نورو قرنونو له خلکو سره يې لري، له ځان څخه ورک نه کړي.» ما چې په ژوند کې د باکلتوره انسان په پېژندنه کې يوه ډېره د کار خبره لوستې ده، همدا ده. نالوستي خو په ځای پرېږده، زموږ په لوستو کې هم د داسې کسانو کمی نشته چې د نورو توکمونو، نورو نظرونو او نورو کلتورونو خلک به ورته کم عقل، بد او پرېوتي ښکاري. زما په خيال، که څوک د رحمان بابا په دې خبره کې شک کوي، په کار ده چې په مهذبوالي کې يې شک وکړو:

وارِه د خپل ځان په نظر ګوره که دانا يې
اې عبدالرحمانه جهان ټول عبدالرحمن دی

د کابل مجلې د ۱۳۳۸ کال په يوه ګڼه کې مې د داستايوسکي په باره کې د

درېيم مخ

د خورا پېرزو کوونکي او لوروونکي الله په نامه

## سرلیکنه

## پښتو ژبه، په رسنیز ډګر کې

پښتو ژبې ته، زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ په دوهمه دوره کې یو څه پاملرنه وشوه، ځینې پوځي او ملکي اصطلاحات په کې پښتو شول، چې یو شمېر یې په شمس النهار جریده کې راغلي او همدغه مهال پښتو ژبې نوې چاپي رسنۍ ته لاره موندلې ده، خو په دغه چاپي رسنۍ کې بشپړ پښتو مطالب نه دي خپاره شوي، مګر کله چې سراج الاخبار دوهم ځل په ۱۹۱۰ زېږدیز (۱۲۸۹ لمریز) کال خپرونې پیل کړې، نو په کې یو شمېر پښتو مضامین او شعرونه خپاره شول. دغه راز، کله چې په ۱۳۰۰ لمریز کال طلوع افغان جریده رامنځ ته شوه، لومړی په کې پښتو او دري مضامین خپرېدل، خو په ۱۳۱۱ لمریز کال ټوله جریده پښتو ته واوښته، چې په افغانستان کې لومړی بشپړه پښتو خپرونه ګڼل کېږي او ورپسې د کندهار ادبي انجمن "پښتو" مجله خپره کړه. دغه راز په پښتونخوا کې هم په ۱۹۲۸ زېږدیز (۱۳۰۷ لمریز) کال د "پښتون" په نوم مجله ډګر ته راووتله، ورپسې وخت په وخت پښتو چاپي خپرونې راوتلې او خپرې شوې دي. له دې وروسته، پښتو ژبې غږېزو او انځوریزو رسنیو او انټرنټ ته هم لار موندلې ده.

دا چې رسنۍ د یوې ژبې په وده او د اړوند قوم د پوهې د کچې په لوړولو کې ډېر رول لري او هم د ټولنو پر ټولنیز ژوند، سیاسي، اقتصادي، کلتوري، ښوونې او روزنې حالت ښه کولو کې ستر اغېز لري، نو هر څومره چې یوه ژبه ډېره رسنیو ته لار مومي او مطبوعات په کې پراخېږي، په هماغه کچه ورسره د خلکو پوهه زیاتېږي، ذهنیتونه یې ورسره روښانه کېږي او هم یې فرهنګي او ادبي چارې ورسره پراخې او بډایه کېږي.

پښتو د یوې لرغونې ژبې په توګه، چې اوسمهال د بشري نړۍ د میلیونونو وګړو د وینا، لیک او لوست ژبه ده، له تېرو څو لسیزو راپدېخوا یې په چاپي رسنیو سربېره راډیوګانو، تلویزیونونو، آژانسونو او انټرنټ ته لار موندلې ده. په کورنئه افغانستان کې په ځانګړي ډول په دې وروستۍ یوې نیمې لسیزه کې ډېر شمېر رسنۍ (چاپي، غږیزې، انځوریزې او انټرنیټي) په پښتو ژبه خپرونې لري، چې دا د دې ژبې د ویونکو د ژوند په بېلابېلو برخو

# کاشکې! مور مې په خپلو سترګو لیدلې وای

▣ ژباړن: څېړنپوه سید محی الدین هاشمي

وایي چې آسمان آبي رنګ لري او ځمکه خړه ده. آسمان د شپې له مخې په رڼو ستورو او سپینې سپوږمۍ ښکلی ښکاري او ځمکه د ورځې له مخې د لمر په وړانګو روښانه وي.

دغه راز وایي چې غرونه، رغونه، باغونه، چمنونه، ځنګلونه، کروندې، ویالې، سیندونه او آبشارونه ډېرې زړه راکښونکې منظرې لري. په هوا کې د ډول ډول مرغانو سیلونه او پروازونه د پرله پسې ننداري وړ دي. ګلانو ته پروردګار بېلابېل په زړه پورې رنګونه ورکړي دي او د سهار، مازیګر او ماښام رڼاګانې او تیارې بېل بېل رنګونه او کیفیتونه لري.

خو زه، نه هغه ویالې، سیندونه او آبشارونه وینم، چې شور او ځوږ یې اورم، نه هغه رنګارنګ ګلان وینم چې شمال یې خوشبویي راته راوړي، نه د هغو مرغانو سیلونه او پروازونه وینم چې آوازونه یې اورم او خلک یې سبا بېګا ننداري کوي او نه هغه آبي آسمان، خړه ځمکه، روښانه لمر، رانه ستوري او سپینه سپوږمۍ وینم چې دلته او هلته یې قدم په قدم د ښایست او ښکلا صفتونه کېږي.

دغه شان، زه د غرونو، رغونو، باغونو، چمنونو، ځنګلونو او کروندو زړه راکښونکې منظرې نه وینم، چې خوند ترې واخلم او که د زړه خبره درته وکړم، نو زه د دغو رنګونو، ښایستونو د ننداري کومه هیله هم نه لرم. زه یوائې او یوائې یوه هیله لرم او هغه دا چې:

کاشکې، یو ځل مې خپله مهربانه مور په خپلو سترګو لیدلې وای!

**ماشومان که د مشرق که د مغرب دي**

**د ژړا او د خندا انداز یې یو دی**

## هېواد پالنه په ښځینه لنډیو...

په دغه ملي سرښندنه او ویاړنه کې له دوی نه څه کمې نه دي، د هغې په پښتني زړه کې هم د قامولۍ او ننګ احساس ټوپونه وهي او په زیاته زړورتیا سره، داسې ملي جذبه او د ننګ احساس د شعر په خوږه ژبه څرګندوي او وایي:

که تورا وربل مې مېراتیږي
په وطن جنګ دی جانان نه منع کومه
***
دښمن په سرو ګولو کې پټ کړه
که کارتوس خلاص شي لونګین به ګاڼه کړمه
***
ته د دښمن سرونه راوړه
زه به درجار کړم توري سترګې شنه خالونه
***
شکر دی ورونه مې جوړه دي
دواړه چې غبرګې ملا تړي دښمن به مرینه
***
که بریالی له جنګه راغلې
دا تور اوربل به له تا جار کړمه مینه
***
لالیه ملا تړه غیرت کړه
په کورو کلي دښمنان راوخاتنه
***
په مورچل نېغ ورځه ټیټ نه شې
ښایسته زلمي د مرګه څنګ نه کړي مینه
***
جانانه جنګ کې توره وکړه
چې د همځولو د خندا نه شم مینه
***
هلته به غږ دربان دې وکړم
چې د مصرۍ توري دې ووینم وارونه (۵)

پښتني مېرمنې او پېغلې دومره په خپله مېړانه مغرورې دي چې دا خبره ورته عجیبه ښکاري، هغه چا چې د پښتنې شېدې رودلې وي، څنګه به ماتې وکړي او د جنګ له میدان څخه وتښتي، لکه چې وایي:

له تېرې توري نه دې ځار شم
د غلیم وینې تویوه چې نوم دې وینه

مېړني که څه هم د عاطفې او خواخوږۍ سمبول دي، خو د وطنپالنې او مبارزې په وخت کې ډېر سخت زړه لري او هر ډول قربانۍ ته چمتو دي، آن که خپل ورونه، مېړونه او داسې نور خپلوان او خواخوږي د وطن د دفاع په خاطر یا د ننګ او جنګ په سنګر او ډګر کې له لاسه ورکړي، بیا هم نه خفه کېږي، اوښکې نه تویوي، بلکې دا یو لوی ویاړ ګڼي، لکه چې وایي:

جانان مې سر په وطن کېښود
په تار د زلفو به کفن ورته ګنډمه
***
ټوټې ټوټې په کټاروشې
د نامردي آواز دې را مه شه مینه
***
آشنا مې جنګ کې سرورکړی
ځکه همځولو کې سرلوړې ناسته یمه

خپلې اغېزې لرلې دي. دغه راز ملګرو ملتونو د نړۍ په ۵۰ ژبو کې، په کومو چې کتابونه او آثار ليکل کېږي، پښتو ژبه هم شامله کړې ده.

له دې وراخوا له تېرو څو لسيزو راپدېخوا يو شمېر بهرنيو هېوادونو هم په خپلو غږيزو (راډيوګانو) او انځوريزو (تلويزيونونو) رسنيو کې په پښتو ژبې خپرونو ته ځای ورکړی، چې دا په نړيواله کچه د پښتو ژبې او پښتون قوم د پېژندنې او د هغوی د کلتور او فرهنګ په پېژندنه کې مرستندوی ثابتېږي. همدا اوسمهال روسيې (مسکو غږ راډيو)، ايران (د تهران پښتو راډيو)، پاکستان (په پښتونخوا کې راډيو او اسلام اباد کې خيبر تلويزيون)، هند (آل انډيا پښتو راډيو)، چين (چين نړيواله راډيو پښتو څانګه)، امريکا متحده ايالاتو (امريکا غږ راډيو او اشنا تلويزيون)، بريتانيا (بي بي سي راډيو او تلويزون)، جرمني (دويچه ويله راډيو)، ترکيې (ترکيې غږ پښتو راډيو)، د چک هېواد له پراګ څخه (ازادي راډيو)، مصر (مصر پښتو راډيويي خپرونې)، سعودي عربستان (سعودي نړيواله راډيو پښتو څانګه) او... په خپلو رسنيو کې د پښتو ژبې خپرونو ته يوه برخه ځانګړې کړې ده.

په کوردننه او بهرنيو هېوادونو کې، رسنيو ته د پښتو ژبې ورننوتل، د دې ژبې د لا غوړېدا او ځلېدا زېری ورکوي، خو هيله دا ده، چې:

- دا رسنۍ دې په خپلو خپرونو کې داسې ژبه وکاروي، چې دا کثريت وګړو د پوهېدا وړ وي او له کارول شويو اصطلاحاتو سره يې د ټولنې وګړي اشنايي ولري؛ مطلب دا چې په اسانۍ ترې اورېدونکی او لوستونکی مفهوم او مطلب واخيستلی شي. په بله وينا، د رسنيو او ولس ژبه دې سره يوه وي.
- په رسنيو کې دې له ځينو خپلسريو لغت جوړونو څخه ډډه وشي او دا کار دې اړوندو علمي او څېړنيزو مراکزو له لارې ترسره شي.
- دا رسنۍ دې د پښتون قوم د ديني او مذهبي اساساتو او ملي فرهنګ (کلتور) ښکارندويي وکړي او هغو ته دې انعکاس ورکړي.

دغه راز وړانديز کېږي، چې:

- ➢ که په کوردننه او بهرنيو هېوادونو کې د هغو رسنيو په اړه، چې په پښتو ژبه خپرونې لري، يوه علمي – څېړنيزه پروژه د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز او يا هم د پښتو څېړنو نړيوال مرکز له لوري وليکلی شي، دا به د راتلونکي له پاره ډېر ګټور کار وي، ښې او مثبتې پايلې به ولرلی شي.
- ➢ دغه راز د يادو مرکزونو له لارې دې د ځينو هغو رسنيو د خپرونو په اړه، چې د پښتو ژبې او ادبياتو اړوند پروګرامونه لري، يوه اکاډميکه څېړنه ترسره شي.

په همدې هيله

***

ما سپېلنې ورته لوګی کړل
خيالي ظلمو په تورو مات کړل سنګرونه

***

يار مې له جنګه بری راوړ
زه ورته مخکې سلامي ولاړه يمه

***

په عسکري دې خفه نه يم
خدای دې سرباز کړه چې نېک نامه شې مينه (۲)

کله - کله خو پښتنه مېرمن له الله پاک نه ژوند هم يوازې د دې د پاره غواړي، چې په وطن باندې يې قربان کړي، لکه:

خاونده سل ځله ژوند راکړې
چې د وطن په مينه سل ځله مړه شمه (۳)

پښتنو مېرمنو د لوړ ملي احساس په درلودلو سره، تل ځوانان هم د ننګ په ميدان کې د وطن د آزادۍ او ساتنې له پاره له غليم سره د مبارزې او مقابلې لپاره هڅولي دي. د دوی د دغه له ننګ او غيرت نه ډک هڅوونکي احساسات په لاندې لنډيو کې وګورئ:

توره را واخله ملا بسته کړه
په وطن مه پرېږده د غيرو قدمونه

***

توره وهه مخ ته مې ګوره
که د غليم سر دې خطا کړ ګرمه يمه

***

ته ځان په خپل وطن شهيد که
زه به تر عمره ستا مزار جارو کومه

***

د پښتنو زلمو نن وار دی
د خپل وطنه توريالی ځان ځاروينه

***

د پښتنو زلميو وار دی
په خپله خاوره توريالي مړونه مرينه

***

که سر په ننګ د وطن ورکړې
په تار د زلفو به کفن درله ګنډمه (۴)

***

جانانه ملا وتړه جنګ دی
د وطن ننګ دی پر دښمن وکړه تاختونه

***

ته د دښمن سرونه راوړه
زه به درجار کړم تورې ستر ګې شنه خالونه

***

توره به نه کړې نو به څه کړې
چې يې شېدې د پښتنې رودلې دينه

***

که په وطن دې سر ورنه کړ
زه مې دا پاکې شودې نه درته بښمه

همدارنګه مېرمنو د پښتنو زلميو ملي روحيه، جذبه او احساس په څومره ښکلې او زړه راښکونکي ډول بيان او ستايلی دی.

پښتون غيرت د پښتون کار دی
کار د پښتو دی بې همت نه شې مينه

***

د پښتنو زلمي زړور دي
تر خپل سر تېر وي بې ننګي نه قبلوينه

***

د پښتنو ژنې ورګډ شول
دښمنان مړه شول لاس يې سره په وينو شونه (۶)

***

پښتنو سر و مال قربان کئ
چې خپله مينه مو پردۍ نه شي مينه

پښتنو مېرمنو ډېر ځله له خپلو سړو سره اوږه په اوږه د جنګ ډګر ته هم وردانګلي دي. دوی له تسلۍ او حوصلې ورکولو نه علاوه له نارينه وو سره يو شان د دښمن په وړاندې جنګېږي، لکه چې وايي:

پر سپين ميدان به در سره يم
زه پښتنه له تورو نه تښتم مينه

***

جانانه هسې وخت به راشي
چې تورې واخلو لاس تر لاس سنګر ته ځونه

***

جګړې ته ما درسره بوځه
چې دې په څنګ کې کومکي ولاړه يمه

د تورې او ننګ په ډګر کې پښتنه بانګه او مېړنۍ مېرمن په دې هم بسنه نه کوي، چې د خپلو سړو د جنګ په ډګر کې ملګرې ده، بلکې هغه ته ډاډګېرنه هم ورکوي او د جنګ په ميدان کې د ظلمو حوصلې داسې اوچتوي:

تورې وهه بری به مومې
که بری نه وي ځوانان تل په تورو مرينه

***

ته په سنګر کې ځان شهيد کړه
زه به خپل شال ستا په زيارت اوغوړومه

***

***

پر هندوستان دې څلی جوړ شه
د نامردي آواز دې مه راځه مينه

***

جانان مې سر په وطن کېښود
ځکه همځولې راته کوښې سمويينه

***

جانان مې سور کفن اغوستی
په استقبال يې پرښتې ولاړې دينه

***

زه دې د مرګه نه وېرېږم
پښتنه وينه د مرګ مخې له ورځينه (۷)

نو په لنډه توګه ويلی شو، چې د لنډيو په پنځونه کې د ښځو لوی لاس دی، لنډۍ چې د پښتو فولکلوري ادبياتو يوه بې سارې او غني برخه ده، زياتره لنډيو زموږ د هېواد د ځپل شوو ښځو دفاع په غاړه اخيستې ده او د ښځې د آزادۍ او غوښتنې آواز اوچتوي.

لنډۍ زياتره د ښځو د عواطفو ترجماني کوي او د ښځو له فکر څخه را زېږېدلې دي. لنډۍ د ښځو د عواطفو او احساساتو د څرګندولو يوه ډېره ښه مرستندويه او صادقه ژبه ده.

**اخځليکونه:**


۱ - پښتو لنډۍ، د سليمان لايق په سريزه، د افغانستان د علومو اکاډمي، پښتو ټولنه، ۱۳۶۳ لمريز کال، ۴۶۷ مخ.
۲ - عصمتي، معصومه. په لنډيو کې د پښتنو ښځو د ژوند انځور، د افغانستان د ښځو سراسري شورا، ۱۳۶۹ لمريز کال، ۶۰ مخ.
۳ - شاه جهان، پښتو ادب کې د مېرمنو برخه، پښتو اکيډيمي، ۱۳۹۳ زېږديز کال، ۲۷ مخ.
۴ - شاهين، سلمی. روهي سندرې (ټپې)، پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۴ زېږديز کال، ۱۷۱ او ۲۹۹ مخونه.
۵ - په لنډيو کې د پښتنو ښځو د ژوند انځور، ۳۱۶ مخ.
۶ - پښتني سندرې، لومړۍ برخه، د محمد دين ژواک په زيار، پښتو ټولنه، ۱۳۳۴ لمريز کال، ۱۱۶ مخ.
۷ - طاير، محمد نواز طاير. ټپه او ژوند، پېښور، ۲۰۱۲ زېږديز کال، ۱۰۰ مخ.

## اروابناد استاد...

حمزه خان شینواري په غاړه او کامل صاحب د دې جرگې د لوی سکرتر په توگه ټاکل شوی و او د پېښور وتلي شاعران او لیکوال پرې راغونډ وو. د دې جرگې هدف د پښتو ژبې هر اړخیز خدمت، پښتو ادب ته د نړۍ ور پرانستل، د ادبي راکړې ورکړې له لارې پښتو ادب ته د نوو پدیدو راوستل، د تنقیدي غونډو له لارې پښتو ادب ته وده ورکول، د پښتنو مشاهیرو او لویانو ادبي یاد ژوندی ساتل، د پښتنو لیکوالو او ویناوالو ترمنځ د افهام او تفهیم رامنځ ته کول او په نتیجه کې د پښتو معیاري ادب دودول وو.

دې جرگې په عملي توگه هر کال د رحمان بابا په زیارت غونډې کولې، له نړیوال ادب نه یې ښکلي نمونې ژباړلې او د پښتو ادب د ودې په غرض یې تنقیدي غونډې کولې، په دې غونډو کې به د پښتو شعرونه، افسانې او مقالې تر عملي نقد لاندې نیولې، د جرگې دا غونډې به معمولاً هره هفته د کامل صاحب په بالاخانه کې جوړېدلې او جریان به یې کله کله د رهبر، غنچې او جمهوریت په اووه ورځنیو ملي مجلو کې خپرېده، دې جرگې پوره لس کاله ادبي خدمت وکړ او د کامل صاحب برخه تر هرچا په کې زیاته او درنه وه.

**وکالت کول:**

کامل صاحب د فلسفې او حقوقو تر زده کړې وروسته د ژوندانه د پرمخ بېولو له پاره دارالوکاله جوړه کړه او د پیاوړي قانوني پوه او وکیل په توگه رامنځ ته شو، ده په دې کار کې پوره لاس وموند او بشپړ شهرت یې ترلاسه کړ، د پېښور پر محکمو سربېره یې د پنجاب په محکمو کې هم وکالت کاوه او له لېرې لیرې نه به خلک ورته را روان وو، د ده دفتر د پېښور په کابل دروازه کې و.

کامل صاحب د داسې پاک وجدان او ویښ خوړینوونکی کار دی، کامل صاحب په بشپړه حوصله د پښتو ادب د پلار خوشحال خان ختک کلیات د لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي "د خوشحال خان ختک مرغلرې" او یوې قلمي نسخې له مخې ترتیب، تنظیم او نشر کړ، ده پردې کلیات باندې ۴٦ مخیزه سریزه کښلې، چې د خوشحال خان د ژوند حالات، عقاید، اخلاق او عادات، تصنیف، اولاد، شاعري او د شاعرۍ بېلابېل اړخونه یې په کې څېړلي دي. دا کلیات لومړی ځل په ۱۹۵۲ع کال او بیا په ۱۹٦۰ع کال په پېښور کې د اداره اشاعت سرحد له خوا په ۱۰۱۴ مخونو کې خپور شو.

د دې ترڅنگ یې د خوشحال خان ختک د خوړ ژبې زوی سکندر خان ختک دیوان هم د یوې نیمگړې قلمي نسخې له مخې د لومړي ځل له پاره ترتیب کړ، د ده پر ژوند او پېژندنه یې سریزه پرې وکښله او د اداره اشاعت سرحد له خوا لومړی ځل په ۱۹۵۳ع کال او بیا په ۱۹٦۲ع کال په ۳۵۲ مخونو کې خپور شو.

د کامل صاحب د زړو متونو چاپ ته د چمتو کولو په برخه کې بل ډېر لوی کار د "تاریخ مرصع" د قیمتي او ارزښتناک متن چاپ ته برابرول و، ده دا متن په زیات ځگرخون د شپږو قلمي او کاپي شوو نسخو له مخې ترتیب او د توضیح طلبو برخو په باب یې نوټونه پرې ور زیات کړل، چې متن یې ٦۲۴ مخونه او نوټونه یې ۸۷۰ مخه دي او همدارازیې په ۵۳ مخیزه سریزه کې د افضل خان ختک د ژوند، د ده د تاریخ او د پښتنو په باب د تاریخونو په هکله معلومات وړاندې کړل او په دې وسیله یې تاریخ مرصع په بشپړه توگه د پښتو ادب او تاریخ علاقمندانو ته وړاندې کړ، چې په ۱۹۷۴ع کال یونیورسټي بک ایجنسۍ په پېښور کې چاپ او نشر کړ، د کامل صاحب له خوا پر تاریخ مرصع باندې لیکل شوي نوټونه د پښتنو د تاریخ په باب د قدر وړ څېړنه ده.

**د پښتنو پر ادب او تاریخ څېړنې:**

په لومړۍ برخه کې یې کورني او لومړني حالات، سرداري او منصبداري، عالمگیري دوره، قید او بند، وطن ته تر راتلو وروسته، د ایمل خان غورځنگ، د ژوند وروستی وخت او مړینه، د خوشحال عقاید – اخلاق او عادات، تصنیفونه او اولاد راوړي او په دوهمه برخه کې یې: حمد، نعت او مناقب، صوفیانه وینا، ملي شاعري، اخلاقي شاعري، د مملکتدارۍ لارې چارې، عشقي وینا، د فطرت مصور او مفسر، غندنې او ټوکې، د خوشحال خان نثر، پر پښتو ادب باندې د خوشحال خان اغېزه، نتیجه او ضمیمې راغلې دي. د ده دا اثر په ۱۹۵۱ع کال د پېښور د اداره اشاعت سرحد له خوا په لویه کچه په ۴۱٦ مخونو کې خپور شو.

په همدې توگه یې د رحمان بابا پر ژوند هم



یو اثر په پښتو ژبه وکېښ او تردې سرلیکونو لاندې یې د رحمان بابا حال وړاندې کړ: رحمان بابا او د هغه عهد، د کلام عام جاج، تصوف، د عشق او محبت شاعر، ښکلي خواږه نصیحتونه، مقامیت او قومیت، ضمیمه. پردې اثر باندې استاد حمزه شینواري یوه ارزښتناکه سریزه کښلې ده. دا اثر هم په ۱۹۵۸ع کال د پېښور د اداره اشاعت سرحد له خوا په ۲۹۵ مخونو کې خپور شوی دی.

پر دې سربېره یې د خوشحال خان د وینا او د مستشرقینو د کار په باب یو انگریزي اثر هم کښلی او هم یې د تاریخ مرصع د یوې برخې په باب د پېښور د محاصرې په هکله یوه بشپړه دوران، ننگیالي، الفلاح، قند، پښتو مجلې او نورو په پاڼو کې یې خوندور علمي، ادبي او تاریخي بحثونه کړي دي او په خپلو قیمتي څېړنو سره یې د دې خپرونو پاڼو ته رنگ او درنښت وربخښلی دی، د قاضي عطاءالله خان، خان ثمین جان خان او کاکاجي صنوبر حسین په مړینو یې پیاوړي قلم داسې اوښکې تویې کړي، چې لوستونکي خوامخوا ورسره ژړوي او په خپل غم کې یې مله کوي. د نقد او ادب په باب د ده نورې لیکنې هم د دې خپرونو په پاڼو کې لیدلی او موندلی شو.

**نقاد لیکوال:**

له نقد او خصوصاً معیاري او تعمیري نقد سره د کامل صاحب مینه له دې څخه ښه ښکاري، چې ده به تنقیدي غونډې په خپل اهتمام او په خپله بالاخانه کې دایرولې او په خپله به یې هم په خپلو آثارو نقد مانه او نقد ته وړاندې شوو آثارو ته به یې عالمانه کوتنیونې کولې، همدارازد ده نقادانه نظر دومره ارزښتمن، عالمانه او تعمیري و، چې د پېښور زیاتو لیکوالو به خپل آثار تر چاپ وړاندې ده ته سپارل او د ده له کره کتنې ډکه سریزه به یې پرې ور زیاتوله او په دې اساس د پېښور زیات مهم کتابونه د ده له تعمیري سریزې سره خپاره شوي دي.

د نمونې په توگه، ده د ښاغلي قلندر مومند په گجرې نومي افسانو باندې یوه ژوره سریزه کښلې، د افسانې پر اهمیت یې خبرې کړې، د افسانې پر جوړښت غږېدلی، د لنډې افسانې ارزښت یې ټاکلی او بیا یې نو د قلندر پر افسانو خبرې کړې او د فن او تکنیک په رڼا کې یې څېړلې دي. همدارازیې د ښاغلي همېش خلیل پر "زما سندرې" شعري مجموعه بنیادي او تعمیري سریزه کښلې او هم یې د استاد حمزه شینواري "یون" نومي اشعارو ته کره کتنه کړې او یوه پخه سریزه یې پرې کښلې ده. په دې ترتیب د پېښور د لیکوالو زیات آثار د ده له نقد سره خپاره شوي او ناشرینو دومره ارزښت ورکاوه، چې هغه اثر به یې چې د کامل صاحب په قلم به یې سریزه درلوده، په پټو سترگو او مینه خپراوه.

**شعر او شاعري:**

یې واچوله، د پېښور په خپرونو کې د ده خواره واره چاپ شوي شعرونه یوه بشپړه مجموعه جوړوي، چې یوه برخه یې کامل صاحب په خپله په یوه کوچنۍ مجموعه کې راغونډه کړې او پاتې یې د پښتو نامتو محقق ښاغلي همېش خلیل راغونډ کړي او په دې وسیله یې د ده د شعر دیوان د چاپ له پاره چمتو کړی دی، همېش صاحب چې د کامل صاحب د شعر ژوره مطالعه کړې، د ده د شعر په باب وایي:

"په حیثیت د یو کم گو شاعر کامل صاحب د پښتو شعر او ادب په موجوده دور کې ځانله د یو ممتاز رنگ او شخصیت خاوند دی، کامل صاحب د یورپ د لرغونې او جدیدې فلسفې نه متأثره دی، ولې داسې معلومېږي چې د فلسفې د زده کړې نه پس کامل صاحب محض یو خشک فلسفي پاتې نه شو، بلکې د جرمن فلاسفر شوپنهاور غوندې د فلسفې او شعر اختلاط ته د یوه زړه راښکونکي ادب تخلیق ورکړو او هم دغه وجه ده چې د فلسفې او شعر ربط نه صرف کامل صاحب د شاعرۍ په ډگر ودرولو، بلکې د یو تخیلي شاعر او عمیق النظر مفکر له مقامه یې هم اشنا کړو." (پښتانه لیکوال، لومړی ټوک، دوهم چاپ، ۲۰۹ مخ)

رښتیا هم کامل صاحب د خپل شعر له پاره تجربه شوی شکل وټاکه او فلسفي پوخ فکر یې په کې ځای کړ، ده د پښتنې چاپېریال په اغېز کې د شعر تشبیه او استعارې هم پښتنې کړې او ویې ویل:

حیرانېږم چې دا څرنگه دلبرې یې
له گوگله مې بهر د زړگي سرې یې
لکه خاوره د "وطن" یا ستا جمال دی
هسې پاکه زما مینه، پرې خبرې یې
دا زه تا که آیینه د "ډېرو" گورم
څه شفاف او منقش په خپل بشرې یې
هم د "بنو" نخلستان یې، په خبرو
هم په مالگې د مجلس د "جټې غر" یې
لکه تود او سوړ په هاړ او په ځلهوي
په غصې او سرد مهرۍ کې "پېښور" یې
که په هوډ لکه سیگړې یې ته د "خوړې"

چهارشنبه ▣ ۱۳ – ۱۶ مه ګڼه ▣ درییمه دوره ▣ پرله پسې ۲۳۷ – ۲۴۰ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴ لمریز کال د لړم (عقرب) ۲۷ مه ▣ ۱۴۳۷ هـ ق کال د صفر المظفر ۵مه ▣ ۲۰۱۵ زیږدیز کال د نومبر ۱۸ مه ▣ ۴مخ


# زېری

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکي ډلې تر څارنې لاندې
مسوول مدیر: څېړندوی محمداصف احمدزی
مهتممه: څېړندویه ملکه مشتري
کمپوز او ډیزاین: م. ا. احمدزی
zerai۱۳۱٦@gmail.com
facebook.com/Zeerai۱۳۱٦
۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارګان
د یوې ګڼې بیه: پنځه افغانۍ
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار، کابل – افغانستان


په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی، په خپله د لیکوالو په غاړه دی.

# وخت څنګه تېرېږي؟

▣ څېړنپوه نصرالله ناصر

وخت هم د نورو مخلوقاتو په څېر د څښتن تعالی (جل جلاله) مخلوق دی، که څوک ترې غوره استفاده وکړي، بده استفاده وکړي او یا ترې هېڅ ګټه وانخلي، هسې عبث یې تېر کړي، هم تېرېږي او د چا پروا نه لري او تېرېږي. وایي چې: "وخت لکه سره زر دي" یا "وخت سره زر دی". موږ باید له دې سرو زرو نه سالمه ګټه پورته کړو او خپل یوه ثانیه وخت بېځایه ونه لګوو او له وخت نه اعظمي استفاده وکړو. موږ ډېر ځله رخصتیو ته هوسېږو، که په ښوونځي کې درس لولو، یا د پوهنتون محصلین یو او که د دولت کارکوونکي یا آزاد مصروفیت او شغل ولرو، باید له وخت نه د ټاکلي مهالوېش له مخې ګټه واخلو، د هر روا کار له پاره وخت وټاکو چې په دغه ساعت کې مطالعه کوم، په هغه کې عبادت او په ... بجو کوم بل کار، یعنې لنډه دا چې د خپل ورځني ژوند د ټولو اړتیاوو او ضروریاتو د پوره کولو او ستونزو د هوارولو له پاره باید ټاکلی مهالوېش ولرو، څو مو قیمتي او ارزښتمن وخت بېځایه تلف نه شي. وایي چې: "له ورخ تېرې اوبه بېرته نه جاروځي" یا "تر ورخ تېرې اوبه بېرته نه راګرځي"، که چېرې موږ زده کړه، جسمي کارونه او نور مصروفیتونه هم په ځوانۍ کې ځان ته ځای لري. په ځوانۍ کې د عبادت توان لرو، د جسمي کار ځواک لرو، د مطالعې او څه لیکلو ښه حوصله لرو (په دې شرط چې ځان له مطالعې سره آشنا کړو)، که له دغه خدای ورکړي نعمت څخه په ځوانۍ او پاخه عمر کې سم او غوره استفاده ونه کړو او عبث یې تېر کړو، زما په اند، دا به یو ډول ناشکري وي، ځکه هره سا چې کښته پورته کېږي او هره لحظه چې تېرېږي، زموږ عمر راکمېږي، نو بویه چې له وخت څخه غوره او مثبته ګټه ترلاسه کړو او بېځایه یې له لاسه ورنه کړو.

لنډه دا چې، که له هغه عمر او انساني ځواک نه چې څښتن تعالی (جل جلاله) رابانندې لورولی دی او له هغه نه سالمه استفاده ونه کړو، نو د باد په څېر رانه تېرېږي او د وخت په تېرېدو مو وررو ورو د وجود پرزې سولېږي او په اصطلاح پرسوده او له کاره لوېږي، چې بیا په تېر عمر ارمان ګټه نه لري.

دا به زما په اند، د هغه ګړندي موټر مثال ولري، چې د چا په انګړ کې ولاړ وي او ترپال ورباندې پروت وي، خو استفاده ترې نه کوي، نه عبث له لاسه ووځي او په سپین ږیرتوب کې بیا افسوس وکړو...!

"وخت څنګه تېرېږي؟" دا د هغه شعر سرلیک دی چې د مصر د "الهلال" مجلې په عربي ژبه خپور کړی دی. دا شعر اصلاً په انګرېزي ژبه ویل شوی، بیا د مصر الهلال مجلې خپلو ادیبانو ته د مسابقې په توګه وړاندې کړی وا او د غوره ژباړې له پاره یې جایزه هم ټاکلې وه.

دغه په زړه پورې شعر لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي له عربي ژبې څخه په پښتو راژباړلی او د طلوع افغان د ۱۳۵۱ کال په کالګڼه کې یې خپور کړی، چې دلته یې د پورتنیو لنډو یادونو په پای کې د زېري جریدې د درنو لوستونکو د استفادې له پاره کټ مټ وړاندې کوو.

د یادونې وړ ده، چې استاد دغه شعر په دومره مهارت ژباړلی، چې که چېرې د ژباړې کلمه ترې لرې کړو، نو څوک به پرې هډو د ژباړې ګومان ونه کړي. شعر دا دی:

**وخت څنګه تېرېږي؟**

چې کوچنیواله مې د خوب په مشغولا تېره کړه

✸ محمد اصف احمدزی

# ادبي او فرهنګي خبرونه

**په بلخ کې کلتوري مېله وشوه**

په بلخ ولایت کې بېلا بېلو ادبي ټولنو د لوی اختر په ویاړ کلتوري مېله ترسره کړه. دغه مېله چې د بلخ ولایت په بلخ ولسوالۍ کې د بلخ ادبي خوځښت په نوښت د تلې په ۶مه، جوړه شوې وه، د کندوز د پسرلي فرهنګي او کلتوري ټولنې یې ملتیا وکړه. په مېله کې د دې دواړو ولایتونو له فرهنګیانو او عامو خلکو سربېره د بغلان، جوزجان، کابل او کندهار ځینو فرهنګیانو هم برخه لرله. یادې کلتوري مېلې د پخلي، مشاعرې، ادبي او ټولنیز بنډار، کرکټ لوبې، اتڼ او د اس سپرېدو پړاوونه درلودل.

**د سعودي عربستان راډیو پښتو څانګې یو ځل بیا خپرونې پیل کړې**

د سعودي عربستان راډیو یو ځل بیا د پښتو ژبې خپرونه چې د څه وخت له پاره بنده وه، د ۱۳۹۴ کال د تلې په ۲۷مه، پیل کړه. دا دوه ساعته خپرونه هره ورځ د سعودي په وخت پنځه بجې، چې د افغانستان له شپږ نیمو بجو سره سمون لري، د اسلامي نړۍ له خبرونو سربېره په پښتو ژبه دیني معلوماتو خپرولو ته ځانګړې شوې ده.

**"پښتو ادب ته د هایکو راتګ او د هغه پرمختیایي بهیر" علمي - څېړنیزه پروژه دفاع شوه**

د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز علمي غړي ښاغلي څېړندوی شهزاده توحیدمل د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د لوړاوي له پاره خپله علمي پروژه، چې "پښتو ادب ته د هایکو راتګ او د هغه پرمختیایي بهیر" تر سرلیک لاندې وه، د ۱۳۹۴ لمریز کال د تلې میاشتې په شلمه په بریالیتوب دفاع کړه.

**د شاعر وزیرمحمد روغ لېوني نمانځغونډه وشوه**

په خوست ښار کې د شاعر وزیرمحمد روغ لېوني په نمانځغونډه کې د پښتو ادبیاتو په بډاینه کې د هغه کړنې وستایل شوې. دا نمانځغونډه د خوست ادبي بهیر له خوا د لړم په لومړۍ نېټه جوړه شوې وه، چې لسګونو فرهنګیانو، شاعرانو او لیکوالانو په کې ګډون کړی و. ویناوالو په خپلو خبرو کې، نوموړی هغه څوک یاد کړ، چې د شعر په خوږه ژبه یې د ټولنې د ویښتیا، اصلاح او روزنې په برخو کې مهم رول لرلی دی. روغ لېونی چې د خوست د لکڼو په بابړو کلي کې زېږېدلی، د چاپ شویو شعري آثارو شمېر یې ۲۳ ته رسېږي.

**د "ازادۍ" تر سرلیک لاندې مشاعره جوړه شوه**

د میدان وردګو ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ په ریاست کې د ازادۍ تر سرلیک لاندې د لسګونو شاعرانو په ګډون مشاعره د لړم په شپږمه جوړه شوه. په دې مشاعره کې د دغه ولایت او ولسوالیو ګڼ شمېر شاعرانو ګډون کړی و، یو شمېر شاعرانو په کې د هېوادپالنې، ملي یووالي، پوهنې، سولې او پرمختګ په اړه شعرونه وویل.

**د "حامدکرزي علمي او فرهنګي بنسټ" پرانیستل شو**

له کوچنیوالي رانیولې تر تاندې ځوانۍ او پاخه عمر خپل وخت عبث تېر کړو او بیا یې د زړښت پرمهال ارمان کوو او د مچ په شان منګولې مروړو، نو بیا هیڅ ګټه نه لري او هغه تېر عمر بېرته په لاس نه راځي. رحمان بابا وایي:

د ځوانۍ عمر دې تېر کړ په غفلت کې
په پیرۍ کې به څه زېرمه د محشر کړې
لکه بېخ د زړې ونې چینجي وخوري
په دا تېر عمر به څه ښاخ و ثمر کړې
دغه باغ به دې خلاص نه شي له خزانه
که چاپېر ورځنې سد د سکندر کړې

عبادت په هر عمر کې ښه دی، البته عبادات بېلابېل ډولونه لري، چې دلته زموږ د بحث موضوع نه ده، خو وایي چې په ځوانۍ کې عبادت داسې دی، لکه سره زر، په همدې ډول په خپله په کې ګرځي او نه بل چا ته اجازه ورکوي، چې ګټه ترې واخلي.

د دې کار یو نقص خو دا دی، چې تیار موټر یې په واک کې دی او استفاده ترې نه کوي، له بلې خوا ولو که له دې موټر نه استفاده هم ونه شي، پرزې یې د وخت په تېرېدو سره زنګ وهي، زړېږي او له کاره وځي.

همدا ډول انسان هم، که څېرې عاطل او باطل وي او هیڅ ډول خوځښت او حرکت ونه کړي او دا متل پر ځای تطبیق نه کړي چې: "ته حرکت وکړه، چې زه برکت وکړم". بیا یې هم عمر او وخت تېرېږي او د ده پروا نه ساتي او اړ دی چې زړښت او بوډاتوب ته هرکلی ووایي.

زما په اند، باید له وخت او سالم وجود نه اعظمي ګټه واخله او پرېنږدو، چې یوه لحظه مو

یا مې په ژړا تېره کړه
وخت مې لاړ ځغلی
په زلمیتوب کې مې بیا هم ډېره خندا وه
ورځ او شپه وینا وه
وخت راڅخه تللی
بیا چې را لوی سوم او مخ پر ښه ځواني سوم
روغ سړی قوي سوم
وخت مې وځغستلی
چې پر ملا کړوپ سومه بوډا سومه بېوا که!
ارمان د ځوانۍ ژوا که
وخت دی الوتلی!
ژر به د مرګ سوګلۍ راپېښې وبه مرمه
خاورو له به ځمه
وخت تر لاس وتلی

# "د افغانستان ادبیات"

څېړنپوه عبدالرحیم بختاني خدمتګار




د دې کتاب لیکوالان ګیراسیمووا او ګیورګي فیودروویچ ګیرس دي. دا کتاب په ۱۹۶۳ز کال د شوروي اتحاد د علومو اکاډمۍ د آسیایي ملتونو انستیتیوټ له خوا د شرقي ادبیاتو په مطبعه کې په روسي ژبه چاپ شوی دی. د کتاب په پیل کې د "کتنپلاوي لخوا" تر سرلیک لاندې د کتاب په اړه یوه سریزه ده. د سریزې په یوه برخه کې د کتاب د ځینو موضوعاتو په اړه داسې لیکل شوي دي: ((د ا.س ګیراسیمووا او ګ. ف ګیرس علمي څېړنه "د افغانستان ادبیات" د هغو علمي کارونو له جملې څخه دي، چې لړۍ یې دوام لري. په دې کتاب کې کوښښ شوی دی، چې د افغانستان کلاسیک ادبي میراث توضیح او تشریح شي، چې په دې کار سره د دودیزو ادبیاتو رول روښانه کېږي. په دې علمي څېړنه کې د افغانستان نوي او معاصر ادبیات په پښتو او دري ژبو کې څېړل شوي دي.

د "دودیز ادبیات" او "معاصر ادبیات" سرلیکونه چې له دوهمې نړیوالي جګړې څخه مخکې کلونو ادبیاتو پورې مربوط دی، د ګ. ف ګیرس له خوا څېړل شوي دي او د "معاصر ادبیات" ډېرې مهمې برخې چې له ۱۹۳۹ ز کال څخه وروسته کلونو ادبیاتو پورې مربوط دي، د ا. س ګیراسیمووا له لوري څېړل شوې ده.))

د دې کتاب نور مهم سرلیکونه په لاندې ډول دي: "دودیز ادبیات"، "د منځنیو پېړیو ادبیات"، "معاصر ادبیات"، "د نویو ادبیاتو لومړنۍ ګامونه"، "د افغانستان د استقلال لومړني کلونه (۱۹۱۹ - ۱۹۲۹)"، "د نویو ادبیاتو د استقرار وروستۍ مرحلې (۱۹۲۹ - ۱۹۳۹)"، "له جګړې نه وروسته د روښنفکرۍ ادبیات"، "ملي او وطن پرستانه ادبیات" او "د ننۍ ورځې ادبیات".

دا کتاب تر اوسه پورې په پښتو ژبه نه دی ژباړل شوی، نږدې (۵۲) کاله پخوا چاپ شوی دی. د دې کتاب په اړه زما وړاندیز دا دی، چې دا کتاب د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړیوال مرکز او یا د ژبو او ادبیاتو مرکز او یا د نورو علمي – فرهنګي مرکزونو له خوا وژباړل شي او چاپ شي.

د "حامد کرزي علمي او فرهنګي بنسټ" د ځوانانو له پاره د وړیا زده کړو، د ښوونې لارو چارو برابرولو او د هېواد علمي، فرهنګي، ادبي او ملي څېړو پېژندلو په موخه د لړم په ۱٦مه، په کابل کې پرانیستل شو. د هېواد پخواني ولسمشر حامد کرزي او د دې بنسټ افتخاري مشر، چې د دې مراسمو پرانیستې غونډه کې یې خبرې کولې، وویل: "دا بنسټ د دوو موخو له پاره جوړ شوی؛ لومړی د ځوانانو په ځانګړې توګه د بې وزلو له پاره د ښوونې او زده کړو موکه رامنځ ته کول او دویم د هېواد نامتو علمي، فرهنګي او ملي څېړو پېژندنه ده."

## وتلی محلي سندرغاړی بېلتون وفات شو

د هېواد وتلی محلي سندرغاړی مومن خان بېلتون د ۹۵ کلونو په عمر د وړپېښې ناروغۍ له امله د لړم په ۱۸مه په کابل کې مړ شو. نوموړی چې اصلاً د کابل د خاکجبار ولسوالۍ د چکري سیمې اوسېدونکی و، د عمر ډېره برخه یې د پښتو او دري ژبو فولکلوري سندرو او موسیقۍ ته ځانګړې کړې وه.

## د لومړي ځل له پاره د ماشومانو مشاعره جوړه شوه

په افغانستان کې د لومړي ځل له پاره د ماشومانو مشاعره د لړم په شلمه کابل کې "د ماشوم د ادبیاتو کور" په نوښت او د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون او "اشیانې" موسسې په همکارۍ جوړه شوه. په دغه مشاعره کې چې په سلګونو ماشومانو په کې ګډون کړی و، د ملي تلویزیون له لارې هم خپره شوه. په دې مشاعره کې د اشیانې لسګونو ماشومانو پر ستېج باندې خپل انتخابي شعرونه ولوستل او هم په کې ترانې او کنسرت وړاندې شول. د ماشوم د ادبیاتو د کور مسوول اجمل تورمان په وینا، په دغه مشاعره کې ډېرې هغه شعرونه د ماشومانو له خوا ولوستل شول، چې د ماشوم ادبیاتو د کور د ځوانو غړو له خوا لیکل شوي وو. دی وایي، په راتلونکي کې به د ماشوم د ادب هغې برخې ته هم پاملرنه وشي، چې د ماشوم له خوا ماشوم ته لیکل دي.

## د اکاډمیسین سلیمان لایق د زوکړې ۸۵یمه کلیزه ونمانځل شوه

د اکاډمیسین سلیمان لایق زوکړې ۸۵یمه کلیزه په کابل ښار کې د لړم په ۲۱مه د "مصور بنسټ" او "افغان هنر پروډکشن" له خوا ونمانځل شوه. په دې نمانځغونډه کې له یو شمېر دولتي چارواکو سربېره لسګونو فرهنګیانو، لیکوالو او ژورنالستانو برخه اخیستې وه او ویناوالو په کې د سلیمان لایق د فرهنګي او ادبي خدمتونو په اړه خبرې وکړې. د غونډې په پای کې د نوموړي د ژوند او فرهنګي هڅو په اړه جوړ شوی فلم پرانیستل شو او ننداري ته وړاندې شو.

## د مشرانو انځوریز نندارتون ترسره شو

د افغانستان قلم ټولنې (د مشرانو انځوریز نندارتون) تر نامه لاندې د ځوان انځورګر حمدالله ارباب له خوا د پښتنو مشرانو انځورونه د روان کال د لړم په ۲۱مه د یوې غونډې په بهیر کې د ننداري له پاره وړاندې کړل، په کومو کې چې د جګړې تأثر ښودل شوی و، چې له امله یې بېلتون او ځانځاني والي ته په کرکه وکتل او ټول یووالي او اتحاد ته راوبلل شول.

## د څېړونکي او لیکوال حبیب الله رفیع په ویاړ مشاعره وشوه

د لیکوال، څېړونکي او د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سلاکار استاد حبیب الله رفیع په ویاړ غونډه او مشاعره وشوه. دغه ناسته په کابل کې د ښوونې او روزنې پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې اړوند د "ودې بنسټ" له لوري د لړم په ۲۵مه ترسره شوه، چې یو شمېر استادانو او سلګونو محصلینو په کې ګډون کړی و. د غونډې په لومړۍ برخه کې ویناوالو پښتو ادب ته د استاد رفیع د خدمتونو قدرداني وکړه او په دې لاره کې یې د هغه خدمتونه وستایل. له دې وروسته د استاد په ویاړ مشاعره وشوه او وړپسې تمثیلي پارچې هم وړاندې شوې.

### "د پښتو په شفاهي ادبیاتو کې د انګېرنو ونډه او د هغوی تحلیلي کتنه" علمي- څېړنیزه پروژه دفاع شوه

د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز غړې آغلې څېړنیارې خاطرې شینوارې د څېړندوی علمي رتبې ته د لوړاوي په موخه له خپلې علمي پروژې " د پښتو په شفاهي ادبیاتو کې د انګېرنو ونډه او د هغوی تحلیلي کتنه" د ۱۳۹۴ المریز کال د لړم په ۲۵مه په بریالیتوب دفاع کړه.

## د"لغمان د تاریخ په اوږدو کې" علمي - څېړنیز سیمینار جوړ شو

د "لغمان د تاریخ په اوږدو کې "تر نامه لاندې علمي -څېړنیز سیمینار د لړم په ۲۷مه، ترسره شو. دغه سیمینار چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او د لغمان ولایت مقام په هڅو جوړ شوی و، په کې له یو شمېر دولتي چارواکو سربېره د علومو اکاډمۍ غړو، د پوهنتون استادانو، لیکوالو او فرهنګیانو برخه اخیستې وه. تردې یوه شپه وړاندې د دغه سیمینار په ویاړ مشاعره هم وشوه، چې په کې د لغمان والي، د علومو اکاډمۍ غړو، علمي او فرهنګي شخصیتونو، شاعرانو، لیکوالانو او ادیبانو شتون درلود.

## د پوهاند میرحسین شاه د زوکړې ۹۰ یمه کلیزه ونمانځل شوه

د کاندید اکاډمیسین پوهاند میرحسین شاه د زوکړې نوي یمه کلیزه د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو د پوهنځي له لوري د لړم په ۳۰مه، په کابل پوهنتون کې ونمانځل شوه. په دې علمي غونډه کې ویناوالو د نوموړي پر ژوند او علمي آثارو خبرې وکړې.